# د امن سندره

**رحیم شمال**

په نیمه شپه کښې مې د کلي ماشومان ژاړي
بس کړئ د ډزو اوازونه

زمکه سینه وهي په زوره او اسمان ژاړي
دلته نور مۀ کوئ جنګونه

زما د کلي پښتنې پېغلې میراتې شولې
خدایه هیڅوک ئې د اوربل د خوربدو نشته
د سرې جوړې د سرې ډولۍ په ارمان پاتې شولې
څوک ئې په زلفو کښې د ګل د کېښودو نشته
په بل څۀ نۀ دي خو د امن په تاوان ژاړي
سترګې ئې سرې شونډې پاړونه

په سر درو کښې سندربولې مرغۍ وسوزېدې
دلته کښې نورې د بارودو تجربې مۀ کوئ
د ګل سره دګل په سر لولکۍ وسوزېدې
دلته کښې نورې د بارودو تجربې مۀ کوئ
د بڼ په څوکو کښې بې جالو دې توتیان ژاړي
بل دي په شنو ونو اورونه

نور مې ګودر او د ګودر مازیګري مۀ سېزئ
پرېږدئ چې لږه دجانان په خوا کښې ساه واخلو
مونږ پرې یو بل ولو غانټول او کشمالي مۀ سېزئ
ډېر ثوابونه به د مینې د ګناه واخلو
راته د ډېرې مودې تږې مئېنان ژاړي
ګرځي شلېدلي ګرېوانونه

مونږ د امن او د مینې د پرچار لېوني
بیا مو په څۀ ګناه ګلان بچي قتلېږي
حالاتو ودرول په داسې قط قطار لېوني
ګرانه شوه اوس چې څوک په کومه لاره ځي قتلېږي
چې پښتانۀ دي کۀ ولاړ دي کۀ روان ژاړي
مړاوي بانۀ سوي رنګونه

تمامه شپه راله د زړۀ د درده خوب نۀ راځي
تمامه شپه په زمکه ناست یمه سندرې لیکم
ماله د ډز د ګوزارونو لېونتوب نۀ راځي
خالي د ګل په ګوزارونو کښې خبرې لیکم
وهي سلګۍ رحیم په خوشي بیابان ژاړي
راپاربدلي دي دردونه

**نصیرالدین طالب**

شعار د ظلم په خپل ځان ماخله
هر وخت د عشق مې امتحان ماخله

ژوند هسې هم خو په سکیندو تېرېږي
مرګ له زمونږ ساز و سامان ماخله

پرېږده رېبرې دې بېرغ د ارزو
زمکه دې واخسته اسمان ماخله

نن لګېدلې دې بازار د وفا
نرخ راپرېوتې دے ډېر ګران ماخله

کله دې واورېده ښکالو د خوشبو
بیا د مالي په سر احسان ماخله

ښکلا رڼا د ښاپیرک څۀ پکار
شمشاد زما د ګلستان ماخله

لوړ عمارت د ګټو خښتو نو څۀ!
مکین چې نۀ لري مکان ماخله

## یو سوال

محمد اسلام ارماني

خدایه له تانه دا یو سوال کومه
په عاجزۍ په زارۍ
دلته یو داسې موسم راولې چې ټوله سیمه
هم کړې ګل ګلزار
په غر او سمه د دې ښکلي وطن
یو شین ښادر راخور کړي
په للمه شاړه زمکه
خدایه راښکې کړې د ګلونو باران
چې په مېرو زرغون کړئ
زېړ سپین او سرۀ ګلونه
ښائسته رنګین ګلونه
چرته په غر چرته په سم ګلونه
هم د غانټول هم د شړشم ګلونه
چې په خندا سر کړي زما د کلي جونه
زما د کلي ځوانان
چې د پټو نه د ټپو اواز
داسې راپورته کړي آهنګ پېدا کړي
یو ښکلے شړنګ پېدا کړي
چې یو زلمے پکښې اواز د یه قربان پورته کړي
او دا ټپه ووائي
لا به دې هېر لا به دې یاد یم
زۀ چې قدم په قدم ځم تا یادومه
او په جواب کښې ورته ښکلې پېغله
د بام د سره دا ټپه ووائي
په دربدلي اواز
زما جانانه مسافره
خدائے دې سوب د خپل وطن وکړه مئېنه
دغه مې سوال دغه زاري ده خدایه

عطاءالله جان

تــۀ پــه منــډه راشــه شــابه
اې د مینــــــې انقلابــــــه

ســتا ســینه ډکــه لــه آبــه
زۀ لــه تنــدې مــرم دریابــه

ستا پــه جنــګ بــه امــن راشــي؟
لــږ مــې پوهــه کــړه جنابــه

دا تیــارې پــه مــونږ رڼــا کــړه
مــخ ښــکاره کــړه لــه نقابــه

چــې دا زړۀ مــې لــږ ټکــور شــي
لـــږ خـــو وخانـــده ګلابـــه

ډېـــره مینـــه رالـــه راکـــړه
بـــې حســـابه بـــې حســـابه

چــې بــې مینــې ژونــدون څــۀ وي
ســتا دې ســوال کــړم لاجوابــه

دا زمــــــــــا د زړۀ ژړا ده
دا چــــې تــــۀ ژاړې ربابــــه

چــې مئــېن شــوم نــو ســرے شــوم
تجربــه مــې شــوه کامیابــه

جــان یــو ټکــے د خپــل مــخ کــړه
د جانــــان د مــــخ کتابــــه

# زما ځمکه

سعدالله مېوند

ډالی: ستر خوشحال خان خټک لاندې شعر او د پښتونخوا ځمکې ته

(درست پښتون له قندهاره تر اټکه

سره یو د ننګ په کار پټ او اشکار)

اے د خوشحال د ارمانونو خاورې
اے د جلال اے د جمال د مشالونو خاورې
ستا په وجود د پښتنو ملي اتڼ راخور دے
ستا دا شډل بدل خوارۀ وارۀ شپانۀ پښتانۀ!
تا په سندرو ستائي
تا ته شپېلۍ غږوي
تا ته د ډول او د سُرنا په سُر کښې
د الهامي ټپو ډالۍ درکوي
تۀ د پښتون د وينې
او د پښتون د مينې هغه ازلي جغرافيه
چې دې فطرت ځوک بدلولے نۀ شي
د ډيورنډ تورې کرښې تا ته وايم
تۀ خو بې اصله ئې بې ذاته ئې وجود نۀ لرې
تۀ کۀ په هره خوا غځېږې،
ستا په ورک وجود به
بيا به هم همدغه يو په بل باندې مئين پښتانۀ
اوړي راوړي، يوه بل ته به سلام اچوي
له يوه بل نه به دحال احوال پوښتنه کوي
تۀ به تر څو د دې واحد ملت په زړۀ پرته ئې
د دې ملت دزړۀ ټوپونه تا زغملے نۀ شي
ګوره چې ځان د استوا کرښه اټکل نۀ کړې
لا به د دغې خاورې موتي موتي
نمسي کودې د خوشحال خان زېږوي
زمونږ د هر بدن په ګرمه وينه
زمونږ سپېڅلې خاورې غم اخستې
قسم دې هرې پښتنې اروا ،
ان په ازل کښې پرې قسم اخستے
تۀ زما مور ئې خاورې!
تۀ امانت د لوئے ځښتن ئې زما
تۀ علامت د تشخص ئې زما
زما د وينې او د مينې بقا
زۀ به په تا کښې د پښتو د ژبې زړې کرم
زما او ستا دا ازلي د رينې به ځوک وباسي
زما او ستا د پيوستون کرښې بدلېږي کله
دا سمې غرونه له يو بل نه جدا کېږي کله
زما رقيب مغله!
په دې ښه پوهه شه
دلته د ژوند په سا کښې زور پروت دے
دلته شملې لا په سرونو رپي
دلته شهباز ښکاري وزرونه
لا په دې سمو په دې غرونو رپي
لا د نړۍ تاريخ پرې ټول دے ګواه
دلته دارا او پېرنګ ګونډې وهلې
دلته پامير پامير درې پرتې دي
دلته هلمند د ايلبندونو کوربه
دلته خېبر له ګذارونو ډک دے
دلته د کسي په لمنو کښې لا
هماغه دوه چته کېږدۍ ولاړې
دلته فضا زمونږ د بيټ نيکۀ دعا نيولې
او دې سپېڅلو پرګنو ده پښتونخوا نيولې